## کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم : مسلماني خورې

لیکنه: سید ابو الاعلی مودودی

ژباړه: ډاکتر شبیر احمد عثماني

خپرندوی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان

تیراژ: ۲۰۰۰ ټوکه

د چاپ نیټه: جدی ۱۳۸۷

ډیزاین : جاوید خان امیري



آدرس: کابل, خوشحال مینه, الف ساحه, د شاداب ظفر بلاکونوترشا

موبایل 0778191382 / 0799394015

دیجیتل: 0752021221

www.eslahonline.net
Email:Library@EslahOnline.Net





**دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی**

**تاسې کولی شئ له همدې سایټ څخه په زرګونو اسلامي او تحلیلي مقالې، په سلګونو اسلامي ویډیوګانې او ترانې او بېلابېل کتابونه ډاونلوډ کړئ**

**ادرس:** www.Eslahonline.net

**Download from:aghalibrary.cm**

# مسلمانې خورې

ليکنه: سيد ابو الاعلی مودودی
ژباړه:: ډاکتر شبير احمد عثماني



بسم الله الرحمن الرحيم

## مسلمانې خورې!

مونږ مسلمانانو تـه بلنـه ورکـوو چې اسلام پـه صحيح او سمه معنـا وپيژني او دافيصله وکړي چې اسلام دخپل دين اود ژوند دقانون په صفت پيژني اوکه نه ؟

اسلام داسې متاع نه ده چې په ميراث يوړل شي اويا له يوه شخص، نسل اوتوکم نه په لاس راوړل کيږي،نوپه دې توګه ښايي چې هر مسلمان يو ځل داسوال دځان سره وڅيړي چې آيا اسلام يې پـه خپلـه خوښـه او رغبت انتخاب کړی دی اوکـه نـه ديو رسم او رواج په شکل يې له خپلو پلرونو او نيکونونه زده کړی دی ؟

**زمامسلمان ورور اوخورې!**

آيا اسلامي التزاماتو او احکامو ته ستاسې غاړه اينبودنه دزړه له کومې ده ؟ او کـه داسې نـه وي نـو بيـا بايـد پـه خپلـه مسلمانۍ اصـرار ونـه کـړئ ، خپلـه لاره لـه مسلمانانوڅخه بيلـه کـړئ او خپـل ځـان داسلامي ټولنې څخه ونـه ګڼئ، ځکـه دا منافقانه چلند دی چې پـه اسلام کې يـوازې هغـه څه خوښوئ چې ستاسې دخپلو هوسونو سره سم وي اوڅه مو چې خوښ نه وي نو په هغو عمل نه کوئ او ترې نه په ښنګ کيږي.

داکار په حقيقت کې نفس پالنه ده نه الله پالنه او دينداري او دداسې عمل سرته رسول له يوه شريف او عقلمند انسان سره نـه ښاييږي او بيـا دا صحيح نـه ده چې داسلام په نامه له خپلې مسلمانې ټولنې نه خپل حقوق غواړئ په داسې حال کې چې داسلامي احکامو پرځای کولو ته تيار نه ياست. نو په دې لحاظ که اسلام ديو حق دين او دټول ژوند ديو قـانون پـه صفت قبلوئ نوهغـه پـه بشپړه توګه پـه خپـل ژونـدکې عملي کـړئ او خپـل ژونددهغـه داحکاموسره برابرکړئ، لـه ازاد خيـالي ،اخلاقي بې بندوباريو او دخواهشاتو له پيروي نه ليرې اوسئ.

**مسلمانې خورې !**

زمونږ دعوت يوازې دښځو لپـاره نـه بلکې دټولـو مسلمانانو لپـاره دی ،خو پـه خصوصي ډول غواړوچې له خپلو مسلمانو خويندوسره خواخوږي وکړوهغوی چې دټولنې مظلومه اومحرومه طبقه ده .

**زما مسلمانې خورې!**

کوښښ وکړه چې خپل شخصیت د سړیو په شخصیت کې ورك نه کړې او خپل دین هغوی ته ونه سپارې ،پوه شه چې ښځه په اسلام کې یو جلا او ځانګړی شخصیت لري او دهغوی شخصیت تر سړیو پورې تړلی نه دی،یوه ورځ به دسړي په څیر دالله په دربار کې ودریږې اود خپلو اعمالو ځواب به یوازې ورکوې بیا هلته داسې نه شي ویلای چې زما اعمال دې دسړیو غوندې تصفیه شي او زما ددین په اړه د سړیونه پوښتنه وکړ ئ بلکې هلته به هر سړی په خپله دخپلو اعمالو ځواب وایي او هر څوك به دخپل قبر نه را وزي او هیڅ ښځه به دمیړه ،پلاراو ورور له قبرنه نه راپاڅیږي .

**مسلمانې خورې !**

ته په خپله دخپل ژونددانتخاب اختیار لرې او دالله په وړاندې به په دې اړه ځواب وایې .

نو په دې اساس مونږ له خپلو خویندو سره داخبره مطرح کوو او ورته وایو چې بې له دې چې دسړیو فیصلې ته وګوري باید په خپله پریکړه وکړي چې آیا اسلام دژوند د قانون په صفت پیژني اوکه نه؟ آیا داسلام وجایب،مسئولیتونه او حدود مني او که نه؟که دټولو التزاماتو او حکمونو سره دزړه له کومې اسلام مني او دهغه پیروي کوي نو بیا ځنډ مه کوه او په خپل نفس کې شك او تردید ته ځای مه ورکوه اوپه ټول اخلاص او پوره شکل داسلام دایرې ته داخله شه ,دژوند ټول اړخونه دهغه داحکامو مطابق عیارکړه .په دې صورت کې به ته وتوانیږې چې دحق لاره پیداکړې اووپوهیږه چې یواځې په همدې صورت کې کولای شې ددنیا او آخرت کامیابي حاصله کړې ځکه حق یوه داسې رڼایي ده چې څومره هغه ته داخلیږې په هماغه اندازه یې رڼا زیاتیږي .

**ګرانې خورې!** که اسلام دې یوازې دعادت او دود په څیر منلی وي او دزړه له کومې ورباندې قانع نه اوسې او احکام یې نه پر ځای کوې نوبیا پوه شه چې د اسلام دغه ډول منل تاته هیڅ ګټه نه کوي او دتکلیف او ربړونو نه پرته بله فایده نه شې حاصلولای .

**خورې!**که ته اسلام دژوند د قانون په توګه منې نو بیا ستامسئولیتونه دخپلې کورنۍ،محیط او ټولنې په وړاندې زیات دي چې په لاندې توګه یې یادونه کوو.





**۱:خپل ټول ژوند داسلام په چوکاټ کې برابرول!**

دیوې مسلمانې خور لمړنۍ دنده داده چې خپل ورځنی ژوند داسلام په چوکاټ کې برابرکړي او خپل عادات،رواجونه ، غلط عقاید او جاهلانه لارې په کې په ګوته کړي او دهغو نه په څنګ شي اودا وړتیا پیداکړي چې داسلام په رڼا کې حق له باطل او اسلام له جاهلیت نه بیل کړای شي او له هغه وروسته خپل ژوند وپلټي ،له خپل ځان سره محاسبه وکړ ي،او دجاهلیت ټول آثار له ځانه لیرې کړي ،لنډه داچې یوه مسلمانه خور باید کوښښ وکړي چې ټول کارونه اوچارې د عقایدو،اخلاقواو کړنوپه ګډون په خپل اجتماعي او فردي ژوند کې دالله داحکامو تابع کړي او له ټولو جاهلي عاداتو نه ځان ګوښه کړي .

**۲:له خپلې کورنۍ نه دجاهلي باورونواو رواجونو لیرې کول!**

دیوې مسلمانې خور دوهمه دنده داده چې دخپل کور فضا پاکه او جوړه کړي دجاهلیت ټول رسمونه او رواجونه ترې وباسي ،دغه جهالت که زوړ وي او که نوی چې اوس یې دغربي تمدن په نوم زمونږ په کورونوکې ریښې موندلې دي او زمونږ کورنی نظام یې له ډیرو تهدیدونوسره مخ کړی دی .عجیبه داده چې نن ورځ زمونږ کورونه دمختلفو جاهلیتونو ځاله ګرځیدلي دي او دنوي او زوړ جاهلیت یو نوی ترکیب په کې لیدل کیږي ،له یوې خوا ځان روڼ اندي بولو چې له دې لارې مو دغربي کلتور دروازه په خپل ځان راخلاصه کړې ده او له بلې خوا مو غیر اسلامي او جاهلانه عقاید او رواجونه په ټولنه کې کلك کړي دي چې دادیو زوړ او قدیم جاهلیت ننبه ده .

کله چې زمونږ خویندې خپل ایماني مسولیت وپیژني ،باید یو قدم مخکې لاړې شي او کوښښ وکړي چې دارنګه جاهلانه او مشرکانه عقاید او رواجونه له خپلې کورنۍ وباسي او دې ته هم متوجه شي چې نوی جاهلیت په کومه بله بڼه او بدل لباس کې او په بیلابیلو نومونو ددوی دکور فضا بدرنګه نه کړي اودغربي کلتوراو فرهنګ له تقلیدنه خپله کورنۍاو ټولنه پاکه کړي .

**۳:خپل کور دقرآن په رڼا روښانول !**

دریم ګام چې یوه مسلمانه خوریې باید په دې لاره کې واخلي دادی چې خپل او لاد ته اسلامي تربیه ورکړي او په اسلامي اخلاقو ،ادابو او طریقو یې وروزي . له بده مرغه چې نن ورځ زمونږ نوی نسل په داسې کورونو کې روزنه اخلي چې په هغوکې دقرآن کریم دتلاوت هیڅ اثر نه لیدل کیږي ،دهغوی سترګې په هیڅ لمونځ

کونکې نه لګیږي او خپله کورنۍ دلمانځه په حالت کې نه ګوري.

هو !هغه اولادبه دخوشبختۍ او سعادت په طرف ځي چې په خپلو کورونو کې دقرآن کريم تلاوت اوري ،خپل مشران د رکوع ،سجدې او قيام په حالت کېويني او په خپل چاپيريال کې ددين او ديندارۍ نښې ويني.

زمونږننی نسل چې په خپلو کورونو کې نه دقرآن تلاوت اوري ،نه څوك دقيام ،رکوع او سجدې په حالت کې ګوري اونه په خپل چاپيريال کې اسلامي مظاهر او آثار ويني نو له داسې نسل نه به دڅه هيله وکړل شي.

دوی ګوري چې دټولنې ټول وګړي ښځې دي که نر, ځوانان دي که بوډاګان ,ټول دمادي ژوند دښه والي او بهبود په لټه کې دي ، په دې لاره کې هيڅ قيد او شرط نه مني اودين او ديندارۍ ته هيڅ توجه نه لري.نو داسې نسل چې په داسې يوه ککړه فضا کې وده کوي څه فکر کوئ چې په هغو کې به داسلام او واقعي سعادت څه نښه پاتې شي؟

**ګرانې خورې!**

داسې يو حالت په خپله کورنۍ کې مه پريږده او کوښښ وکړه چې په خپل فردي او اجتماعي ژوند کې داسلام مظاهر اوآثار تاند او تازه وساتې.

زمونږ ډيرې خويندې قرآن کريم لولي او تلاوت يې کوي ،ولې له بده مرغه نه پوهيږي چې داقرآن دوی ته څه پيغام لري؟او له دوی نه څه غواړي؟له يوې خوا داسې آيتونه چې بې حيايي ،بې حجابي او نورې ناوړې کړنې حراموي, لولي او له بلې خوا دهماغو حرامو اعمالو مرتکب کيږي .

نو په دې اساس زمونږ خويندې بايد پوه شي چې دقرآن دتلاوت موخه او هدف دادی چې دهغه په لارښوونو عمل وشي او دالارښونې يې په خپل عملي ژوند کې تطبيق کړي او دخپلو اولادونو لپاره نمونه شي ،ترڅو هغوی په خپل مخ کې داسلام يوه مجسمه او ژوندۍ نمونه وګوري،په هغې پسې اقتدا وکړي ,دتوحيد پيغام يې غوږونو ته ورسيږي ، اسلام يې په زړه کې نقش جوړکړي او دهغې په رڼاکې خپل ژوند جوړکړي، دعبادت په اصلي مقصد پوه شي او په دې توګه يو خوځنده اومتحرکه اسلامي بيلګه شي.

**دکورپه نارينه وودينې ا غيزه پريږده!**4-

ديوې مسلمانې خورله دندونه يوه داده چې دکورنارينه په ديني چارو کې ترخپل اثر لاندې راولي .خپل پلار،مور،خاوند اواولادونه داسلام لور ته دعوت کړي او له





هغو سره په خپل اجتماعي او فردي ژوند کې داسلام په پياده کولوکې مرسته وکړي .

نه پوهيږم زمونږ خويندوداخبره له کوم ځايه اوريدلې ده چې ښځه په سرې باندې اغيزنه شي کولی،حال داچې که ښځه وغواړي په ډيره اسانۍ سره کولای شي په سړي خپله ديني اغيزه پريږدي ,که زمونږ خويندې وغواړي او وواييې چې مونږ دمحمد (ص)او ابوبکر صديق (رض)سيرت خوښوواودبوش يا شارخ خان څيره اوسيرت نه خوښوونوپه ډيره کمه موده کې به وګوري چې زمونږ ځوانان او سړي به خپلو شکلونو ته تغير ورکړي اوخپل ځانونه به په اسلامي شريعت اومحمدي سيرت برابرکړي .

که زمونږ يوه مسلمانه خور وغواړي اوداوواييې چې زه غربي کلتور او دغرب ژونددود نه خوښوم او ددې پرځای اسلامي کلتوراواسلامي ژوند خوښوم په کوم کې چې لمونځ ،روژه ،او له الله نه ويره له ليرې ښکاريږي نو زمونږ ځوانان به ډيرژردخپل ژوند ماډل ته تغيرورکړي او داسلام په واقعي سيرت به ځانونه ښايسته کړي .

که زمونږ يوه مسلمانه خورخپل خاوند ته وواييې چې زه په هغه کور کې چې حرام مال لري او په حرامو ښايسته شوي وي نه اوسيږم اوهغه عيش اوعشرت چې په رشوت لاس ته راځي نه خوښوم بلکې هغه ژوند چې له حلالولاس ته راغلی وي که ديوې زړې خيمې لاندې يوه مړۍ وچه ډوډۍ هم وي خوښوم تاسو شاهد اوسئ چې په داسې شکل به دټولنې دډيرو رائجو مفاسدو او حرام خوريو مخه ونيول شي.

همدارنګه هغه مسلمانې خويندې چې اسلام دخپل ژوند هراړخيز نظام بولي اودخپلې ټولنې داصلاح په لارکې قدمونه ږدي له ټولو لومړی کولای شي خپل کور ،خپلوان اواقارب له مختلفو هلاکتونو ځنې وژغوري او هغوی ته دزاړه اونوی جاهليت له منګولو نجات ورکړي.

**هوخورې !** ستا دنده ده چې په نرمه ژبه اوخوږه لهجه خپل خپلوان او دوستان دهغوی له کميو او تقصيراتونه خبرکړې اسلامي احکام هغوی ته وښيې اوهغوی له اسلامي اوديني چوکاټ سره اشناکړې ،خپله هم بايد يوه الګواونمونه اوسې ترڅو هغوی له تاځنې پيروي وکړي او تا داسلام ديوې رښتينې نمونې په ډول وپيژني او ته په دې ايمان ولره چې که دغه کاروکړې نو زمونږ ټولنه به ډير ژر داصلاح او نيکۍ په لور روانه شي.

**۵:په ناوړه لارو مه ځه!**

ګرانې خورې!که تااسلام په رښتیا منلی وي نوته دیوې واضحې اوروښانه پوښتنې سره مخ کیږې چې باید هغې ته ځواب وواېې او دهغې په اړه فیصله وکړې هغه پوښتنه داده چې :ایا ته داسلام نه په سرغړونه او دجاهلیت په پیروي کې له سړیو سره همکاري کوې او که نه؟ زه پوهیږم چې که تا اسلام په صحیح ډول پیژندلی وي حتما به ستا ځواب منفي وي ،ځکه ته نه غواړې چې خپل آخرت دبل چا لپاره برباد کړې ،پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :(**ان شـــرالناس یوم القیامةمنزلة،عبداذهب اخرته لدنیا غـــیره**) ژباړه:په تحقیق سره بدترین انسان دآخرت په ورځ هغه دی چې خپل آخرت دبل چا لپاره برباد کړي .

نو په دې لحاظ دنورو دزیبایي اوښایست لپاره خپل آخرت مه بربادوه او خپل ځان دنورو لپاره په هلاکت کې مه اچوه او هیڅکله هم دې ته اماده نه شې.

دیوې مسلمانې ښځې په صفت دخپلې کورنۍ ټولو غړو ته اعلان وکړه چې زه نه شم کولای داسلام نه مخالفو کارونوکې ستاسې همکاره شم ،له اسلامي احکامو اوحدودونه تیری نه شم زغملای او دانه شم کولای چې دنورو لپاره خپل آخرت برباد کړم.

**۶:داسلام په پیروي کې دخپلوخپلوانوسره همکاره اوسه!**

که ستا خپلوان اودوستان دالله اودرسول(صلی الله علیه وسلم)پیروي ته ترجیح ورکوي په دې اړوند له هغوی سره مرسته کوه اود ربړونو اومشقتونو په صورت کې هغوی ته ډاډ ورکوه او دهغوی دایمان دلاښې تقویې هڅه کوه.

هغه څوك چې غواړي خپل ژوند داسلام له اصولواوحدودو سره برابر تیرکړي هیڅکله نه اماده کیږي چې دمال دګټلولپاره حراموته مخه کړي, هغه سړی حرام خوري نه خوښوي او هغه مال یې چې له حلالو لاس ته راوړی وي په حرامو نه مصرفوي نو له دې وجې نه یوه مسلمانه ښځه باید په کموحلالو قناعت وکړي خپل پلار،ورور،اوخاوند دې ته اړنه کړي چې ددنیوي لذت لپاره دنامشروع لارو نه مال لاسته راوړي.

کله چې داسې خلك دحق په پیروي کې وي او دحق په پلوی کې د باطل سره مبارزه کوي شاید له ډیرو ربړونو اومشقتونو سره مخ شي چې یوه مسلمانه میرمن باید دداسې خاوندانو سره دداسې تکالیفو په زغملو کې مرسته وکړي اوهغوی





دې ته وهڅوي چې همدادکامیابي لارده او دهغوی داطمینان او ارام سبب شي.

**دوخت غوښتنه:**

مونږ دیوې لویې اوعظیمې برنامې مسولیت په غاړه لرو،دابرنامه په افغانستان کې دیواسلامي نظام پیاده کول دي ،داکار له مونږ نه غواړي چې ډیرزیار وګالو او ډیر ربړونه تحمل کړو ځکه زمونږ ځوانان اوس دیوې دوه لارې په سرواقع دي او په یو کشمکش کې وخت تیروي او نه پوهیږي چې دخپل ژوند لپاره کومه لاره انتخاب کړ ي او کوم نظام ته ترجیح ورکړي.

تاسو وینئ چې زمونږ په ټولنه کې داسلام یو شمیر پلویان شته چې اسلام یې له خپلو پلرونو اونیکونونه په میراث کې لاس ته راوړی او دې ته حاضر نه دي چې اسلام دیوې بشپړې برنامې په ډول وپیژني ،هغوی داسلام په نامه زمونږ له اسلامي ټولنې نه دخپلو حقوقو غوښتونکي دي ولې هغه التزامات ،واجبات اومسئولیتونه چې اسلام په هغوی ایښي دي نه قبلوي او له هغو نه سرغړوي او خپل ځان ترې نه ازاد ګڼي او داهم غواړي چې زمونږ نظام او هیواد داسلامي حدودو اوچوکاټ نه خپلې پښې وباسي او دازادي په نامه په حقیقت کې یو کفري نظام او کافرانه قوانین مسلط کړي ،په دې رابطه نه یوازې هیله من وي بلکې په عملي ډول په دې برنامه کې ونډه لري.

ددې ډلې په مقابل کې یوه بله ډله چې اسلام دژوند کامله برنامه ګڼي او په دې قانع دي او غواړي چې ددین په بنیاد یواسلامي نظام جوړ کړي او اسلامي قانون په خپله ټولنه کې پلی کړي .

په داسې یو کشمکش کې لکه چې سړي مکلف دي , ښځې هم مکلفې دي چې له دوولارو نه یوه انتخاب کړي, ټولنې باید تصمیم ونیسي چې ایا تش په نوم داسلام پلوي کوي او که د حقیقي اسلام په جبهه کې واقع کیږي.

زمونږ خویندې باید په داسې حساسو شرایطو کې ملي او بین المللي شرایط په ژوره توګه درك اووپیژني او دهغو په مقابل کې چپ پاتې نه شي او په دې یوه شي چې په یوه مهم سنګر کې قرارلري او داایجابوي چې دخپلې موضع نه دفاع وکړي

**په نظام کې دخلکودنظرارزښت:**

مسلمانه خور باید په دې پوه شي چې دخلکو رای اونظر په اوسني نظام کې ارزښت لري ،نوپه دې لحاظ که خلك وغواړي چې دیو واقعي مسلمان په توګه واوسیږي الله(ج) باید دیو واقعي حاکم اومالك په توګه وپیژني او اسلام دخپل

ژوند لپاره يواځينۍ لاره انتخاب کړي داکار په نظام اوحکومت اغيزه لري.

اوياپه بل عبارت :که وغواړواسلامي نظام او حکومت حاکم کړو لـه دې نـه پرتـه بله لار نشته .دکلمې معنا همداده چې مسلمان بايد الله (ج)دواقعي مالك،حاکم او پروردګار په توګه ومني او اسلام دخپل ژوند برنامې په توګه قبول کړي،نو پـه دې اساس مونږ ،تاسې او ټول مسلمان ملت بايد يو ځل بيا داکلمه تکرار کړو ،دهغې غوښتنې وپيژنو او په هغو عمل وکړواو په دې توګه داسلام نظام او برنامه په خپله خوښه او رضا دخپل ژوندلپاره انتخاب کړو.

**اسلام اودښځې حقوق**

زمونږ پـه ټولنـه کې داسـلام پـه اړونـد ناسـم اوغلـط تـصورات وجـود لـري او لـه مختلفـو اړخونـو ور تـه لمـن وهـل کيـږي ,بعـضې داسې انګيـري چـې کـه چيرتـه اسلامي نظام حاکم شي نومونږ په لاړ شو اوپه تيارو کې بـه ژوند کـواو دترقـي او پرمختګ له کاروان نه به شاته پاتې شوخصوصا دښځو په اړوند داسې ګمان کـوي چې دهغوی مقام به راټيټ شي ،دادواقعيت خلاف ده ،ځکه اسلام دښځې دحقوقو يواځنی ضامن ده او که اسلامي نظام حاکم شي نو ښځې به دسړيو په نسبت له ډير فيض اوبرکت نه برخمنې شي ،دادی په مختصراولنډ ډول دښځو پـه اړونـد بعـضې مسايل واضح کړواو ګورو چې داتصورات او پروپاګندونه حقيقت لـري اوکـه هـسې بې اساسه او درواغ دي .

**١:دښځې دشخصيت استقلال:**

اسلام هغه يواځنی نظام ووچې ښځه يې ديو مستقل شخصيت په توګه وپيژندلـه اودخپلو احکامو په څرګندولو يې دهغې دشخصيت اعتراف وکړاودښځو دحقوقـو دلاسته راوړو لپاره يې بې ساري مبارزه وکړه ,اسلام سلګونه کالـه مخکـې دښځې لپاره درايې اونظر حق ورکړ او داحق يې هغوی ته وروبانبه ،داپه داسې زمانـه کې ووچې انـسانانو بـه ښځـه دشـيطان اسـتازې ګڼله او دهغـوی لـه شخـصيت نـه يـې انکارکاوه،په داسې يو حالت کې اسلام دلومړي ځل لپاره دهغوی شخصيت ثابت کړ او په ټولنيزو چاروکې يې ورته درايې او نظر حق وروبانبه ,په يوه اسلامي نظام کې هره بالغه ښځه درايې او نظر حق لري .

**٢:دښځې ملکيت اوميرا ث:**

اسلام ښځو ته دکامل اوپوره ملکيت اوميـراث حق ورکـړی دی ،ښځـه حق لـري چې خپل ځان تـه ملکيـت ولـري څو هغـه پـه کـار واچـوي او لـه ګټې نـه يـې برخمنـه





شي،ښځه حق لري که چيرته فارغ وخت ولري په خپله کار وکړي ،زحمت وګالي او له دې لارې نه مال لاس تـه راوړي ،خاوند ،پلاراوورور دهغې پـه ملکيـت کې هـيڅ اختياراوحق نه لري.

**٣:دښځې تعليم:**

اسلام ديو کامل اوشامل دين په حيث دعلم زده کړه په نراوښځه فرض کړې ده په دې اړونـدچې کومـه غلـط فهمـي دښځـودتعليم پـه رابطـه موجـوده ده هغـه داسـلام دښمنانو ايجاد کړې ده او له اسلام اواسلامي نظام سره هيڅ اړيکـه نـه لـري ,اسلام ښځوته داحق ورکړی دی چې دخپلې اجتماعي وظيفې په چوکاټ کې هر ډول پوهه لاسـته راوړي او ځـان دعلـم لـوړو پوړيوتـه ورسـوي ، اسـلام پـه دې اړونداسـلامي حـدودو ،احکـامو ،مقرراتـواو التزاماتوتـه توجـه کـول شـرط کـړي دي چې پـه هـيڅ صورت کې دښځې دتعليم خنډ نـه دی اوپـه حقيقـت کې د لـسګونونورو مفاسـدو مخه نيسي.

**ښځه په اسلامي او غربي تمدن کې**

**ګرانوخويندو!**

تاسې بايدپه دې پوه شئ چې اسلام ښځې ته عزت ورکـوي او لـه همـدې وجې نـه يې ډيرغټ مقام ورکړی دی .داسلامي اوغربـي تمـدن تـرمنځ همـدافرق دی چې پـه غربي تمدن کې دښځې لپاره هيڅ مقام نه شته او ښځه دهيڅ ډول حقوقو مستحقه نه ګڼي ،ترڅو يې چې دښځې تـوب لـه مقامـه ونـه باسي او دسړيومقام تـه يـې ونـه رسوي ,دسړيو مکلفيتونه او مسئوليتونه دهغـوی پـر اوږو کيـنږدي او بـالاخره غټ مکلفيتونه ورونه سپاري.

اسلامي تمدن ښځې ته په داسې ډول حقوق ورکوي چې ديوې ښځې په صـفت پـه ټولنه کې ژوندوکړي ،دنورو دندې دهغو په اوږونه ږدي اويواځې دهغو مکلفيتونو مسئوله يې ګڼي چې دهغې له فطرت او انساني جوړښت سره برابر وي .مسلمانان په دې اړوند خپل تمدن دغرب له تمدن نه څوچنده لوړګڼي اوپه دې يقيـن لـري چې داسلام دريځ په دې اړوند په سمو اومعقولو اساساتو بنا دی نوپه دې لحاظ امـاده نه دي چې خپل يوپاك اوصحيح حکم پريږدي او دنورو ناولی اوناپاکه حکم ومني.

زمونږ مخالفت له اوسنۍ ټولنې او غربي تمدن سره چې ښځه او نر په ګډ ډول پـه کې ژوندکوي په کوم تعصب او ړوند تقليد نه ولاړنه دی مونږ پـه يوکامـل بـصيرت غواړوچې خپل ځان ،ټولنه اوټول بشريت دکاميابۍ او فلاح لورته بوزو اوهغوی ته

له هلاکت اوبربادۍ نه نجات ورکړو.مونږيوازې په خپلو عقلي دلايلو دې نتيجې ته نه يو رسيدلي بلکې تاريخي نتايج هم زمونږ داموقف تاييدوي اودغربي تباه کوونکي تمدن اثاراو نتايج چې دنورو قومونو لپاره زيري دي دخپل سرپه سترګو وينو اوهغه دخپل عقل او کامل بصيرت له مخې پيژنو نو په دې لحاظ حاضرنه يو چې خپل قوم دهلاکت اوبربادۍ کندې ته وروغورځوو.ځکه داهغه هدف دی چې غربيان غواړي مونږ دهغه په طرف بوزي ،هغو خپل اخلاقي ارزښتونه له لاسه ورکړي دي او اوس غواړي چې نورهم په دې مهلك مرض اخته کړي .

مونږ غواړو چې زمونږ دملك اوملت پرمختګ اوترقي بايد داسلامي لوړو احکامو او اخلاقو په چوکاټ کې وي ترڅو داسې نه شي چې خدای مه کړه دمادي ترقي اوتمدن په خاطر له هغې قيمتي او ګران بيه سرمايې نه چې اسلامي او اخلاقي ارزښتونه دي بې برخې شو او په نتيجه کې داخروي سعادت اوخوشبختي نه محروم پاتې شوهغه سرمايه چې دمليونونو انسانانود پاکو وينوپه ارزښت ترمونږ رارسيدلې ده او زمونږ دښمنان شپه اوورځ دهغې د له منځه وړلو په هڅه کې دي.

**پوره اسلام اوکه..........!!**

ګرانې خورې!په دې اساس تاسې بايد فيصله وکړئ چې غربي کلتور اوژوند خوښوئ اوکه اسلام؟

تاسو له دې دوه تګلارو څخه بايد يوه انتخاب کړئ اوددې حق نه لرئ چې دواړه سره ګډې کړئ.

که اسلام خوښوئ نو پوره غاړه ورته کيږدئ اوخپل ژوند دهغه مطابق عيار کړئ ځکه اسلام په ډيره واضحه توګه حکم کوي او فرمايي چې : (ياايهاالذين امنواادخلوا في السلم کافة) ژباړه:اې هغه کسانو چې ايمان موراوړی دی په اسلام کې پوره پوره داخل شئ .يعنې اسلام دخپل ژوند په هر اړخ کې تطبيق کړئ او ستاسې دژوند يو اړخ هم بايد داسلام له دايرې نه بهرنه وي.

هغه ژوند چې داسلام اوکفر دواړونه مخلوط وي نه په دنيا کې په کارراځي اونه په آخرت کې څه ګټه لري او ددې دواړوترمنځ ګډ ژوند اوبيا

ورته داسلامي ژوند نوم ورکول له تش چل اوفريب نه پرته بله معنا نلري.

**دښځې اوسړي ترمنځ مساوات:**

ځينې وايي چې اسلام ښځه دسړي تابع ګرځولې ده او هيڅ مقام او درجه يې نه





ده ورکړې ،اوداسې انګيري چې اسلام نعوذ بالله بې عدالتي او بې انصافي کړې ده .

ولې زمونږ خويندې بايد په دې پوه شي چې کوم حقوق چې غرب او غربي نظام ښځو ته ورکوي هغه ديوې ښځې په حيث نه ورکوي بلکې هغوی په لومړي سرکې ښځه نيمه سړی کړ ي او بياورته دنارينه وولـه حقوقو نـه يو څه ورکړي ،هغوی‌غواړي چې ښځه هم اوږه په اوږه دسړو سره کار وکړي برابره خبره ده چې هغه کار دښځې له فطرت او جوړښت سره برابر وي اوکه نه .

ښکاره خبره ده چې کوم کارونه ښځې سرته رسوي سړي يې نه شي رسولای اوحتی سړي نه شي کولای په هغو کارونوکي چې ښځې ته الله دخپل خلقت مطابق ورسپارلي دي لږه همکاري هم وکړي ،لکه دتوالد اوتناسل اوداولاد دتربيې مسئله .نو په دې لحاظ هغه شعارونه چې غربي تمدن د مساواتو په هکله پورته کړي دادي چې :ښځه بايد خپل کار په يواځې ځان سرته ورسوي ځکه سړي په هغو کې ورسره مرسته نه شي کولای اوپدې سربيره چې کوم کارونه سړي کوي ښځې يې هم بايد وکړي چې پدې صورت کې بايد ښځې دڅلورونه درې برخې او سړي دڅلورونه يوه برخه کاروکړي دا د هغه غربي مساوات او برابري حقيقت دی چې خلك ورته رابولي .

که چيري دغربي تمدن تاريخ مطالعه شي نو وبه موندل شي چې په لومړي ځل دوی ښځو ته دمساوات په نامه چل ورکړ او ويل به يې چې Ladies first ولې اوس يې دښځې لومړيتوب له نظره غورځولی دی اودواړه ( ښځه او سړي) په يوه تله تلي په داسې حال کې چې ښځه په غرب کې دسړوپه نسبت ډير کارونه سرته رسوي ،اوکه اوس يوه اسلامي اوغير اسلامي ټولنه مقايسه کړئ نو پوهه به شئ چې ښځه په اسلامي ټولنه کې سترمقام اوحيثيت لري اودهغې دحقوقوپه ورکړه کې له نورو ټولنو څخه وړاندې ده که يوه ښځه په نوبت اويا کومه ګڼه ګوڼه کې ولاړه وي په دواړو صورتونو کې ښځې ته دلومړيتوب مقام ورکوي ولې که تاسې په غربي ټولنه کې وګورئ ښځه اوسړي په هيڅ ځای کې يو تر بله توپير نه لري او په هيڅ ځای کې هم ښځه داولويت حق نه لري اوتر اوسه پورې په غربي ټولنو کې دښځې اوسړي دکار ساحې متفاوتې دي .

سړي په خپل بدني جوړښت کولاي شي چې سخت اودرانه کارونه وکړي ولې ښځه يې توان نه لري ،همدارنګه په غربي ټولنو کې هم ښځې حکومتي منصبونو

ته په اسانۍ نه ګمارل کیږي دشلمې پیړۍ په دې وروستیو کې په فرانسه کې په دې اړوند نظر غوښتنې شوې چې آیا ښځه دوزارت مقام تر لاسه کولی شي بالاخره د رایو په اکثریت فیصله وشوه چې ښځې ته باید د وزارت مقام ورنه کړای شي .

حقیقت دادی چې غربي ټولنې هڅه کوي ترڅو ښځې له هغه مقام نه چې الله (ج) ورکړی دی راوباسي او داسې مقام ته یې ورسوي چې دخلقت له لحاظه نه شي کولای هلته ورسیږي ،ښکاره ده چې ښځه به له هر لحاظه وروسته پاتې وي او ممکنه نه ده چې هغه مساوات چې دوی یې غواړي لاس ته راشي.

اسلام ښځوته داسې مکلفیتونه اومسئولیتونه سپارلي دي چې دهغوی له خلقت او فطرت سره سر لګوي ،څو دخپل خلقت او پیدایښت مطابق دهغوپه سرته رسولو وتوانیږي او بیا ښځه د خپلو ټولو حقوقو لپاره له سړیو سره برابره ګڼي اوپه دې لاره کې هیڅ فرق اوتفاوت نه پیژني .

نو په دې لحاظ یوه مسلمانه ښځه باید د الله شکر پرځای کړي چې هغه یې په یوه اسلامي ټولنه کې پیداکړې ده او له داسې یو مقام او حیثیت نه یې برخمنه کړې ده چې باید دغربي ټولنو ښځې یې په اړه غبطه ولري .

لاړشئ وګورئ چې غربي ټولنې څنګه په پټه خوله له خپلو اجتماعي ظلمونو او مفاسدو نه ناارامه دي ،تاسې دامریکا ښځې وګورئ، دانګلستان ښځې وپوښتئ چې له څه ډول اجتماعي مصیبتونو او بې نظمیو سره مخ دي ؟هغوی له هغو نعمتونو نه چې تاسې یې لرئ محرومې دي، پلاردخپلې لور،ورور دخپلې خور، ځوی دخپلې مور او په همدې توګه ټول دوستان او خپلوان دیو بل په اړه هیڅ مسئولیت نه احساسوي اود( بز به پای خود وګوسفند به پای خود ) خبره کوي،په داسې ټولنو کې چې کله یوه نجلۍ دبلوغ مرحلې ته رسیږي له یو طرف نه د اپیغام اوري چې ځه خپل ځان ته یې وګټه او له بل پلوه هیڅ نوع مسئولیت وجودنه لري ترڅو وګوري چې له کومه ځایه یې وګټي او خپل ژوند څنګه تیر کړي ؟

ښځه په غربي ټولنو کې په ډیر بدمرغه اوله غم نه ډک ژوند لري ځکه دانسانیت مفهوم ښه لباس ،ښه خوراك او ښه څښاك نه دی بلکې انسانیت دهغې پاکې او مقدسې رابطې نوم دی چې دبنده ګانو او دهغوی دالله ترمنځ جوړیږي کومه رابطه چې دانسانانو ترمنځ دمحبت او دوستۍ فضا رامنځ ته کوي او هر فرد دبل په اړوند دمسئولیت احساس کوي له دغې رابطې نه په غربي ټولنو کې خلك محروم دي .





په اسلامي ټولنو کې پلار دخپلې لور په اړوند چې ترځوېې واده نه وي کړی مسئول دی او له واده وروسته یې مسئولیت بیا دخاوند په غاړه دی اوپه دغه حال کې بیا هم پلار بې تفاوته نه وي اوتر اخري سلګۍ پورې دخپل مسئولیت احساس کوي ،ورور هم دخپلې خور په اړوند د مسئولیت احساس کوي او زوی دخپلې مور خدمت ګاروي په دې توګه یوه مسلمانه ښځه په خپل څنګ کې ډیر داسې څوك ګوري چې دهر تکلیف او مشقت په صورت کې له هغې سره همکار وي او دهغې په اړوند به دخپل مسئولیت احساس کوي .

په عمومي ډول خاوند خپله ښځه دخپل کور ملکه ګڼي هغې ته عزت ورکوي او ټول اختیارات دهغې په لاس کې ږدي او بې له دې نه چې بیچاره په لوڅ ځان دسړوپه مخ کې ونڅیږي او دهغو دمجلس ساتیری شي ،دهغې عزت ،وقار،اوعفت نور ترې یوسي خپل ژوندداطمینان او سعادت په یوه ښکلې فضاکې تیروي .

**ګرانې خورې!** که په دغه راز شرف ،مقام اودرجه خوښه او راضي نه یې او غواړې چې دغربي ټولنو نتایج وګورې نو بیا اختیارلرې اما باید په دې پوهه شې چې که یو ځل په دې کنده کې ولویدې او په دې لاره لاړې نو په داسې ابدي ناپاکي او مرداري کې به ولویږې چې له توبې پرته به په بل شي نه پاکیږې او نه ښنل کیږې .

**تعددازواج یا** polygamy

یوه له هغو شبهاتو څخه چې ډیرې تکراریږي اوغربي رسنۍ له هغې نه اوس داسلام دبدناموليپه موخه دیوې وسیلې په شکل کار اخلي هغه د تعددازواج یا د ښوڅو د نکاح کولومسئله ده ،مونږ نه پوهیږو هغه څوك چې په اسلامي ټولنو کې ژوند کوي اودهغو حالات له نږدې نه څاري ولې ددې غربي رسنیو دغه شعارونه زمزمه کوي ؟ایا نه پوهیږي چې څومره خلکو په اسلامي ټولنو کې له یوې نه زیاتو ښځو سره واده کړی دی آیا دهغو تعداد له هیڅ سره مساوي نه دی ؟ هغه څوك چې دغربي تمدن نه متاثر شوي دي اویا هم دیوې نه زیاتو ښځو له نکاح کولو سره مخالفت لري باید په دې پوه شي چې که دتعدد ازواج مسئله په غربي ټولنو کې دقانون له نظره منع ده ولې په عمل کې یو فیصد خلکوهم پرې عمل نه دی کړی .

ځکه هغوی د girlfriend په نامه کولای شي ډیرو ښځو اونجونو ته دوکه ورکړي

او په خپل قید کې یې وساتي ،که دقانون په لحاظ ممنوع وي ولې په عمل کې یو فیصد خلك هم په دې اکتفا نه کوي اوټول وګړي یې له یوې نه زیاتوښځوسره اړیکې لري اوس نو راشئ اووګورئ چې کومه لاره بهتره ده ؟ هغه لاره چې زوجي ارتباطاتو ته قانونیت ورکوي اودښځې اوخاوند حقوق اوواجبات په ګوته کوي او که هغه ارتباطات چې یوازې دجنسي غریزو د خاموشولو لپاره وي او ښځه او سړی پکې دیو بل په مقابل کي دمسئولیت احساس نه کوي؟

**ګرانې خورې!**

کوم دین چې تا غوره کړی دی یواځینی نظام دی چې دانسان دکامیابۍ اوفلاح ضمانت کوي داسې یو نظام دی چې دمعقولیت درلودونکی او په عدل اوانصاف ولاړ دی .

هو!اسلام سړي ته اجازه ورکوي چې ترڅلورو ښځو پورې ځان ته په نکاح کړي ولې شرط یې دا دی چې دهغو په منځ کې په عدل او انصاف چلند وکړي او عدالت مراعات کړي او ددې. نه بغیر که له خپلې میرمن سره خیانت وکړي نو باید تادیب او مجازات شي.

**دښځې حجاب**

ګرانې خورې!اسلام ستا دعزت اوکرامت دساتلو لپاره پر تا حجاب لاژم کړی دی اوهغه ځوك چې دحجاب سره مخالفت لري په حقیقت کې نورې ارادې لري ،غواړي چې زمونږ خویندې په بل طرف بوزي ،هغوی ارزو لري ترڅو په دې نامه زمونږ خویندې دخپلې نقشې اوپلان مطابق چې په خپله یې ترسیم کړې ده حرکت وکړي ،هغوی دروابطو ،حقوقو ،مکلفیتونواواجتماعي ژوند په اړه ځان ته برنامه لري چې دحجاب نه دممانعت مسئله ددغې برنامې دتطبیق یوه وسیله ګڼي .نومخکې له دې چې دحجاب مسئله تر بحث اوڅیړنې لاندې نیسئ لومړی ددوی برنامه وڅیړئ اووګورئ چې په رښتیاهم ستاسو دسعادت اونیکمرغۍ ضامن ده اوکه نه ستاسو دهلاکت اوبربادۍ وسیله ده.

کله چې اسلام ښځې ته په حجاب امر کوي پدې سره دهغې له کرامت اوفضیلت نه څه نه کموي بلکې غواړي چې هغوی ته وقاراودرنښت وروبښي ځکه وقار اوعزت هغه دی چې ښځو ته خپل هغه حقوق ورکړل شي چې دهغوی دفطرت اوجوړښت سره برابر وي اوهغوی په داسې کارونومکلفې شي چې دسرته رسولو توان یې ولري.





**آیا ښځه په ټولنه کې یوبې ګټې عنصردی؟!**

بعضې وایي چې اسلام دځینوقوانینو لکه حجاب اونورو په وضع کولو سره دټولنې په رشد او تکامل کې دښځې رول محدودکړی دی اوهغوی نه پریږدي چې دیو فعال عنصرپه صفت دټولنې د اقتصادي رشد اوودې لپاره کاروکړي خو سوال دادی چې آیا رشد یوازې دوسایلو اواختراعاتو په پرمختګ کې دی اوکه دنوي نسل په سالمه روزنه اوتربیت کې؟هغه هیوادچې دهغوی نوی نسل په کرایه روزل کیږي اوماشومان یې دژوند له پیل نه دموراوپلار شفقت نه پیژني اوترې محروم وي څنګه کیدلای شي له هغو نه دانسانیت دکامیابۍتمه وشي ؟کله چې یوماشوم دنیا ته راځي اوخپلې سترګې رڼوي پلار یې په وظیفه کې وي اومور یې هم د پیسو ګټلو لپاره کومې کارخانې اویا دفتر ته تللې وې له داسې اولادنه بیا څنګه ددوی دلوییدلو په صورت کې درحم اوزړه خوږي امیدکیدای شي .

هغوی چې دمور اوپلار له شفقت نه محروم وي په حقیقت کې انسانیت نه پیژني اودیـــو وحـــشي حیـــوان پـــه صـــفت ژونـــدکوي همداوجـــه ده چـــې زرګونومصیبتونوااووحشتونو,قتل،لوټماری،اوظلم دانسانیت فضا ناارامه کړې او انسانیت یې په وحشت اړولی دی .

ځکه چې دچارو واګې دداسې چا په لاس کې دي چې دموراوپلار محبت یې نه دی لیدلی اوهغه څوك چې دمحبت اوترحم له نعمت نه بې برخې وي څنګه کیدلای شي په نورانسانیت ترحم وکړي؟

که یوه ښځه دنوي نسل دتربیت اوپالنې مسئولیت په غاړه واخلي هغو ته انسانیت وروښیي ،اوزیاروباسي چې په هغوکې له الله نه وېره ،اخلاق او دیني ارزښتونه پیاوړي کړي همدا په حقیقت کې پرمختګ اوترقي ګڼل کیږي اوترقي یوازې دانه شي کیدای چې ښځه لکه نارینه کارخانې ته ولاړه شي اویا په دفتر کې کاروکړي دښځې وظیفه په ټولنه کې دانسانیت پالنه اوروزنه ده .

★ ★ ★